دغه رنگ مو تاسې غوره امت گرځولي یاست چې پر خلکو گواهان اوسئ

شهادت

اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارگان

شهادت خلورم کال، ۲ مه گڼه، پرله پسې ۱۵۳ مه گڼه چهارشنبه ۱۳۹۰ هـ ل د ورې ۲۳ مه د۱۴۳۳ هـ ق د جمادی الاول ۱۹ مه د۲۰۱۲ م د اپریل ۱۱ مه

درس قرآن

تباه دی هر غیبت گر پیغور ورکوونکی. هغه چې مال یې راټول کړی او په شمار یې زیرمه کړی دی. گمان کوي چې مال به یې له مرگ څخه تل وژغوري. نه ده داسې بلکې خامخا به په ماتوونکې کې ورواچول شي. ته څه پوهېږې چې ماتوونکې څه دی؟ د الله بل کړی اور دی. چې په زړونو خېژي. او پر هغوی به سر پټې وي. د لوړو او راښکلو شوو ستنو په مینځ کې به یې لمبې وي. (سورة الهمزة)

درس حدیث

از حذیفه بن یمان رضی الله عنه روایت است که گفت: منافقت چیزی بود که در زمان پیامبر خدا صلی الله علیه وسلم وجود داشت، ولی منافقت امروز کافر شدن بعد از مسلمان شدن است.

(صحیح البخاری)

پیام الحاج عبدالهادی ارغندیوال رئیس حزب اسلامی افغانستان به مناسبت شهادت دردناک مولوی محمد هاشم منیب

- شهادت المناک مولوی منیب برای حزب اسلامی افغانستان، عموم مجاهدین و مردم مجاهد دوست افغانستان ضایعه بس بزرگ و جبران ناپذیر بشمار می رود.
- شهید مولوی محمد هاشم منیب از نخبه مجاهدینی بود که همه عمر گرانبها اش را در خدمت دین و میهن اش سپری نمود.

(صفحه دوم)

دیني عالم او د مقدس جهاد پیاوړي مجاهد مولوي محمد هاشم منیب شهید کړی شو

عبدالله کامه وال

PROPERTY OF ACKU

په ډېرې خواشیني سره مو خبر ترلاسه کړ چې د مشرقي ولایاتو پیاوړي مجاهد او د کونړونو د سنگر اتل، مولوي محمد هاشم منیب د خپل زلمي زوی سره یو ځای په داسې حال کې چې د جمعې د مبارکې ورځې د لمانځه د ادا کولو وروسته د خپل کور پرلور روان و د اسلام او افغانستان د سولې او ثبات د دښمنانو له لورې په یوه ناخوانمردانه برید کې په شهادت ورسېد.

مولوي محمد هاشم د افغانستان د اسلامي انقلاب له مخکښو او اتلو مجاهدینو له جملې

پاتې ۳ مخ

حامد کرزی:
خانه های افغانها بعد از این مصؤون خواهد بود

بر اساس این توافق ما به مردم اطمینان می دهیم که نه تنها خارجی ها به خانه های شان داخل نمی شوند بلکه حکومت افغانستان هم کسی را جور نمی دهد

کابل، رسنی:

رییس جمهور افغانستان روز دوشنبه از توافقنامه تازه امضا شده بین افغانستان و امریکا در مورد عملیات شبانه در افغانستان استقبال نموده آنرا برای حاکمیت ملی کشور از نقش مهم برخوردار دانست.

حامد کرزی رییس جمهور افغانستان روز (دوشنبه) از توافق که بین امریکا و افغانستان در مورد عملیات جنجال بر انگیز شبانه در افغانستان نمودند، استقبال نموده آنرا، برای حاکمیت ملی کشور از نقش مهم برخوردار دانست.

عملیات شبانه که به گفته نیروهای ناتو در آن عموماً بدون آنکه حتی مرمی هم فیر شود، تندروان گرفتار می شوند، موضوع جدی مورد اختلاف بین افغانستان و امریکا بود، و مانع را سد راه امضای سند همکاری های درازمدت ستراتیژیک بین دو کشور ایجاد نموده بود.

بر اساس این توافقنامه که به روز یکشنبه بین

پاتې ۳ مخ

قطر د افغان سولې د بهیر لپاره په کابل کې سفارت پرانیزي

تاند:

د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت نن وویل چې قطر په خپله خاوره کې د طالبانو لپاره د دفتر د پرانستلو او د افغانستان له حکومت سره د خبرو په لړ کې غواړي چې په کابل کې سفارت پرانیزي.

د باندنیو چارو وزارت ویندوی جانان موسی زي په یوه خبري غونډه کې وویل، د دیپلوماتیکو اړیکو ټینگېدا، د طالبانو لپاره د دفتر پرانستنه او سیاسي همکاری په دوحه کې له قطري چارواکو سره د افغانستان د

پاتې ۳ مخ

افغانستان د نړۍ په رسنیو کې

پرافغان ښځو د قیوداتو لگولو مسله بیا پورته شوې

څلورم مخ

بې احساسه حکمرانان او بې وسه ولس

محمد خلیل

دویم مخ

افغانستان او هند د اوسپنې د ایستلو په برخه کې موافقه وکړه

دغه موافقه لیک د افغانستان او هند د ستراتیژیکو همکاریو د سند په رڼا کې چې تېر کال د دواړو هېوادونو مشرانو لاسلیک کړ، رامنځ ته کېږي

کابل، رسنی:

د اوسپنې د ایستلو او د پولادو د تولید په برخه کې د افغانستان او هند ترمنځ د همکارۍ دغه موافقه لیک په داسې حال کې لاسلیک کېږي، چې هندي کمپنی د افغانستان د اوسپنې د لوی کان حاجي کک د ویستلو قرارداد ته نږدې شوي دي.

د افغانستان د کانونو وزیر وحیدالله شهراني وویل، چې دغه موافقه لیک د افغانستان او هند د ستراتیژیکو همکاریو د سند په رڼا کې چې تیر کال د دواړو هېوادونو مشرانو لاسلیک کړ، رامنځ ته کیږي...

پاتې ۴ مخ

انتصاب متهم به شنیع ترین جرم به عضویت سنا را باید محکوم کرد

دوکتور سنجیده

> قانون اساسی افغانستان در ماده هشتادو چهارم در مورد اعضای مشرانو جرگه مشعر است براینکه:
> «یک ثلث باقیمانده از جمله شخصیت های خبیر و باتجربه به شمول دو نفر از نماینده‌گان معلولین و معیوبین و دو نفر نماینده‌گان کوچی ها به تعیین رئیس جمهور برای مدت پنج سال.
> رئیس جمهور تعداد پنجاه فیصد از این اشخاص را از بین زنان تعیین مینماید.»

از مهم ترین وظایف پارلمان در هر کشوری تصویب قوانین است که از مراجع اجرائی به آن تقدیم می گردد، بهر اندازه که پارلمان از افراد متخصص و آگاه در این بخش ها از غنا برخوردار باشد قوانین با دقت بیشتر و عاقبت اندیشانه تر بیرون خواهد شد.

آنچه که فقره سوم در ماده هشتادو چهارم قانون اساسی افغانستان در مورد انتصاب اعضای مشرانو جرگه به رئیس جمهور صلاحیت داده شده نه برای آنست که رئیس جمهور با انتصاب افراد و حواشی، دوستان، دوستان پدر و خانواده خود را به آن راضی گرداند و به آنها افتخار عضویت و امتیازات پنج ساله مشرانو جرگه را نصیب گرداند هدف از این انتصاب توجه جدی کشورها با دقت بیشتر به قوانین مملکت است که مجلس سنا بحیث مرجع نهائی و باصلاحیت تصویب قوانین باید از غنای بیشتری برخوردار باشد.

این طبعی است که در هر کشوری قوانین نمی تواند محدودیت هائی نیز کدرهای انتخابی وضع نماید که باید در مجلس نماینده گان و سنا خوامخواه افراد خبیر و آگاه و با تجربه در همه رشته ها حضور یابند، ...

بقیه در صفحه سوم

سرلیکنه

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

د زندانونو او د شپني عملیاتو چارې پخپل لاس کې نیول یو ښه ګام دی خو ...؟

افغان حکومت ته د بګرام زندان ورسپارل او په دې خبره د هوکړې سند لاسلیکول چې لدې وروسته به د شپې عملیات د افغانستان د امنیتي ځواکونو له خوا ترسره کېږي د بشپړ خپلواکي په لور یو مثبت ګام ګڼل کېږي. ددغه تړونونو وروسته به د ډېرو افغانانو هغه اندیښنې هم لېرې شي چې ویل یې په افغانستان کې د بهرنیو زندانونو شتون او د بهرنیو ځواکونو خپلسرو عملیاتو د افغانستان خپلواکي او ملي حاکمیت له منځه وړی دی.

په دې کې هیڅ شک نشته چې دا دواړه کارونه افغانانو ته ددې خبرې زیرې ورکوي چې افغانان به نور د بهرنیو ځواکونو له ویروونکو زندانونو او د شپیني عملیاتو له غتو غتو بلاګانو څخه نجات ترلاسه کړي خو هغه څه چې د ویلو دي هغه دا دي چې د افغانستان حکومت هم باید له خپل ولس سره اسلامي او افغاني سلوک وکړي نه دا چې د بهرنیو ځواکونو کړه وړه تعقیب او دهغوی په نخچ قدم لاړ شي. د زندانونو او د شپني عملیاتو چارې پخپل لاس کې نیول به هله د افغانانو خوښي دو برابره کړي چې له هغوی سره ښه چال او چلند وشي د حق او باطل ترمنځ توپیر وشي، بې ګناه وګړي ونه ځورول شي، رشوت ترېنه وانخستل شي او د قوم ژبې سمت او ګوندي تعصبونو په اور کې وریت نه کړی شي.

دا خبره ثبوت ته رسیدلې چې امنیتي ځواکونو له خوا ډېر بې ګناه وګړي یواځې او یواځې په دې خاطر د تروریست په نامه نیول کېږي چې له ډېر رشوت اخستلو وروسته خوشې کړی شي او په دې خاطر هم د ډېرو بې ګناه خلکو په کورونو چاپې وهل کېږي چې د خپلو شخصي دښمنیو او قومي تعصبونو انتقام ترې واخستل شي، له دې واقعیت نه هم انکار نشي کېدلې چې کله داخلي ځواکونه دچا په کور چاپه وهي نو د کور قیمتي شیان، نقدې پیسې او د ښځو ګاڼه هم له ځان سره وړي چې په ډېرو ځایونو کې دغه ناوړې پېښې په تکراري ډول ترسره شوي هم دي.

که چېرته دداسې ناوړو کړنو مخه ونه نیول شي نو ددې متل مصداق به وګرځي چې له بارانه تښتېدو ناوې لاندې یې شپه شوه.

له څه شک پرته د بهرنیو ځواکونو له خوا خپل سري شپني عملیات او زندانونه افغانانو ته نه وړاندې د منلو و او نه به وروسته ومني، خو له دې واقعیت نه هم څوک انکار نشي کولې چې بهرنیو پوځیانو د چا له کوره نه د ښځو ګاڼې غلا کړې دي او نه هم نقدې پیسې او قیمتي سازو سامان، مګر ددې برعکس د داخلي ځواکونه د غلا خبرې د هر چا په خوله دي. همدغه راز د بهرنیو ځواکونو په زندانو کې د رشوت اخستلو شکایت هم چا نه دی کړی، نو ځکه ددې خبرې کلکه اړتیا ده چې ښاغلی کرزی ددغو ناروا کړنو د مخنیوی لپاره جدي ګامونه پورته او دا خبره یقیني کړي چې هر څوک ددغې ناروا کړنی مرتکب وپیژندل شي له سخت نه سخته سزا به ورته کول کېږي.

زموږ چارواکي دې په دې خبره هم اعتراف وکړي چې تراوسه خپل ولس وته په انصاف ورکولو کې پاتې راغلي دي او د خپلو جیبونو د ډکولو لپاره یې تل پخپل ولس ظلم او زیاتې کړی دی، په ناکرده ګناه یې نیولي، ځورولي او د رشوت په مقابل کې یې خوشې کړي دي، باطل یې حق او حق یې باطل کړی دی.

ثابته خبره ده چې کوم ولس ته د خپلو چارواکو له خوا دهغوی روا حقوق ورنکړی شي او د پیسو د ترلاسه کولو لپاره د ظلم ژرندې وربادې وګرځول شي هغه ولس بیا د پردي توب احساس کوي او د مجبوریت له لاسه بل چاته ترجیح ورکوي چې بالاخر ملت له یو بد سرنوشت سره مخامخ کېږي، دې لپاره چې ولس د پردیتوب د احساس پرځای پخپلو چارواکو بروسه وکړي، ددې خبرې ستر ضرورت دی چې دغه مظلوم او کړیدلی ولس ته په ډېر درنښت وکتل شي، د حقوقو یې خیال وساتل شي، د خپلو خواهشاتو او نفساني غوښتنو ښکار نکړی شي، دا احساس ورته ورکړ شي چې ددې هېواد اصلي سرمایه همدا ولس دی، که الله مکړه د ولس اهمیت ته پاملرنه ونه شي او چارواکي له پردیو نه بدتر ظلم او زیاتې ورباندې جاري وساتي نو د خپلواکي او استقلال خوبونه به کله هم رښتینی نه شي او دا هېواد به کله هم د بهرنیو له لاسوهنې نجات ترلاسه نه کړي.

پیام الحاج عبدالهادی ارغندیوال رئیس حزب اسلامی افغانستان به مناسبت شهادت دردناک مولوی محمد هاشم منیب

بسمه تعالی

من المؤمنین رجال صدقوا ما عهدوا الله علیه، فمنهم من قضی نحبه و منهم من ینتظر، و ما بدلوا تبدیلا

اینک ستاره درخشندۀ دیگر جهاد، اسطورۀ صبر و بردباری، تقوی و ایمانداری از آسمان جهاد و نهضت اسلامی افول کرد.

شهید مولوی محمد هاشم منیب از نخبه مجاهدینی بود که همه عمر گرانبها اش را در خدمت دین و میهن اش سپری نمود و بالآخره در راه تأمین صلح و ثبات در کشورش همراه با فرزند عزیزش جام شهادت نوشید و به لقاء الله پیوست.

روح شان شاد، راه شان پر رهرو باد!

دشمنان سوگند خورده مردم افغانستان دقیقاً افراد صالح و مجاهدی را هدف قرار میدهند که از نگاه مردم داری از پایگاه وسیع و مستحکم و از نگاه عقیدتی و دینی و همچنان صداقت و ایمانداری از مرتبه والای برخوردار باشند، زیرا که همین افراد در اجتماع اند که جلو توطئه ها را می گیرند و با درک و شناخت درست از معاندین اسلام زمینه نفوذ آنها را سد نموده و مردم را از دسایش شوم آنها آگاه می سازند و نمی گذارند تا کوردلان دون صفت به خواسته های شیطانی شان نایل آیند.

ما از دشمنان ملت افغانستان گله ای نداریم، زیرا از دشمن جز دشمنی و عداوت انتظاری نمیتوان داشت، ولی افسوس ما بر آنست که دشمنان افغانستان بعضی از هموطنان سخیف ما را در تحقق اهداف شوم خویش استعمال می نمایند و به نقشه های شیطانی شان صبغه دینی بخشیده، عدۀ از افراد ناآگاه و از اسلام بی خبر را وسیله جنایات خود قرار می دهند، چون میدانند که با موجودیت شخصیت های خبیر و آگاه در جامعه نمیتوانند به کید و مکر شان مردم را بفریبند و کشور آزاد منش ما را در کام اسارت فرو برند، غافل از آنکه این سرزمین در طول تاریخ به خون مطهر شهدای اسلام و آزادی رنگین گشته است. إن شاء الله هیچ قدرتی قادر نخواهد بود تا سرزمین مردخیز و شهید پرور افغانستان را در اسارت خویش درآورد و به عزایم شیطانی اش برسد.

اگر چه شهادت المناک مولوی منیب برای حزب اسلامی افغانستان، عموم مجاهدین و مردم مجاهد دوست افغانستان ضایعه بس بزرگ و جبران ناپذیر بشمار می رود، با کمال اطمینان باید گفت که دشمنان سوگند خورده ما با چنین حملات ناجوانمردانه و شهادت فرزندان اصیل این خاک هرگز به مراد شان نخواهند رسید. از خون پاک شهید منیب هزاران روهرو به پا خواهند خواست و تا محو دشمنان زبون و کوردل این سرزمین به مبارزۀ بی امان شان ادامه داده و آنها را به سرحد یأس و ناامیدی خواهند راند. تاریخ را باید بر ادعای خویش گواه گرفت.

ما به خون پاک شهدای خود تعهد بسته ایم که در برابر همه دسایس و توطئه ها مبارزه خواهیم کرد، در مقابل ظلم و ستم سر تسلیم و اطاعت فرو نخواهیم آورد و در راستای حاکمیت ملی، استقلال و تمامیت ارضی و آزادی خویش از قید و بند هیولای استعمار تا استقرار نظام الهی که ناجی بشریت است، به مبارزه بی امان خویش ادامه خواهیم داد. در این پیکار، یا به ارمان شهدای خویش تحقق خواهیم بخشید، یا به کاروان شهدا خواهیم پیوست.

در پایان، شهادت جانگداز مولوی صاحب منیب و همراهان شهیدش را به هیأت رهبری و کافه اعضای حزب اسلامی، مجاهدین غیور و کافه ملت مسلمان افغانستان عرض تسلیت نموده و از بارگاه رب العزت استدعا دارم که جایگاه شهدای ما را بهشت برین قرار دهد. به همه بازماندگان و یاران شهید منیب صبر جمیل و اجر جزیل تمنا می کنم.

عبدالهادی ارغندیوال
رئیس حزب اسلامی افغانستان

بې احساسه حکمرانان او بې وسه ولس

محمد خلیل

د بهارستان په چوک کې د سپوږمۍ په څېر ښکلې یو مزاري ځوان کرولا ګاډی ته راوخوت په لاس کې نسخې او دوایانې وې، رنګې الوتې او د ناروغۍ اثار له ورایه ښکاره کېدل، خپل څنګ کې ناست ځوان ته وویل: څو ورځې کېږي پاکستاني سفارت ته ځم او راځم چې ویزه ترلاسه کړم خو نه یې شم ترلاسه کولې، هلته ولاړ پیره داران هم ډېر بداخلاقه دي او ښه چال او چلند نه کوي.

نه پوهېږم څه وکړم، معده مې ډېر زیات درد کوي، ډېرو ډاکترانو ته لاړم خو معده مې ښه نه شوه، خلک راته وايي چې پاکستان ته لاړ شه هلته به دې درملنه وشي، خو له بده مرغه څوک راته ویزه نه راکوي. له وړاندې سیټ نه یو ځلمي ورته غږ کړ: بې ویزې او بې پاسپورته لاړ شه پولیس ته به رشوت ورکړې، پولیس هسې هم له پاسپورټ والاو نه پیسې اخلي، ناروغ په ډېره غمجنه لهجه کې وویل: زه نه پښتو ویلې شم او نه هلته بلد یم هسې نه چې ورک شم یا مې پولیس ولوټي او یا هم چېرته په جعلي ډاکترانو واوړم. د ناروغ حالت ډېر زړه دردوونکی و د ناروغ له تندي نه د مایوسی او پریشانی نښې له ورایه ځلېدلې، له ځانه سره مې وویل: په زرګونو نور افغانان هم ددغه ځوان په څېر په اندېښنو کې ډوب دي نشي کولې چې لږ تر لږه

ګاونډیو هېوادو ته د درملنې لپاره لاړ شي آخر دا بیچاره ملت به ترڅو له داسې بد حالت نه ځورېږي؟

بل لوري د هېواد مشران دي چې د خپل ولس له حاله غافله ایله د خپل اقتدار د ساتلو په جنګ کې د یو بل پښې وهي، د هېواد سرمایه په دواړو لاسو لوټي، بلندمنزلونه او پلازې جوړوي او هره میاشت بهرنیو هېوادو ته د سیل او تفریح لپاره سفرونه کوي مګر بېچاره ولس په ډول ډول غمونو او اندېښنو کې ډوب دی، ځینې کورونه نه لري او ځینې راشن، ځینې له بدامني او لوټ ماري نه کړېږي او ځینې له غربت، افلاس او بې عدالتي نه، دا مظلوم ولس نه زړه سواندي مشران لري او نه هم وزیران، قاضیان، والیان، ښاروالان، رئیسان او مدیران، نه د دوا درملنې لپاره ښه مجرب ډاکتران لري او نه هم مجهز لابراتوارونه او باکیفیته درمل.

چارواکي له خپل ولس او خاورې نه دومره بې پروا دي چې ګویا دوی ته صرف د پیسو د راغونډولو او د خلکو د وینې د څښلو لپاره وظیفه ورکول شوې ده.

د اقتدار په ګدي ناست چارواکي دی لږ غوندې پر ماضي هم نظر واچوي او دهغو حکمرانانو انجام ته دی وګوري چې له دوی نه وړاندې ددې هېواد چارواکي وو، هغوی نن چېرته دي او خپل خدای ته به څه ځواب ورکوي؟ ددنیا د څو ورځو پر ژوند مغرور کېدل نه دي پکار بلکې دهغه غالب او تلپاتې پاچاهی ته غاړه ایښودل پکار دي چې ازلي او ابدي دی.

انتصاب متهم به شنیع ترین جرم به عضویت سنا را باید محکوم کرد

(ادامهء از صفحه اول)

...و این مسؤولیت رئیس جمهور است که باید با توجه به حالت هر دو مجلس که از چه کفاآتی در کمبود باقیمانده برای برطرف نمودن این خلا از اشخاص باتجربه و کارآگاه سناتور انتصاب نماید، تا مجالس در اثنای بحث روی مسائل مملکتی به این کمبود روبرو نه شوند. زمانی قانون با صراحت نص "از جمله شخصیت های خبیر و باتجربه "در پیشگاه رئیس جمهور خط روشن رسم مینماید بهیچصورت لازم نیست اشخاصی که نه تخصص آنها روشن است و نه هم خبره و تجربه شان به این سمت گماشته شوند و سیت مجلس سنا توسط افرادی که اهلیت آنرا ندارند اشغال گردد و افراد بی مسؤولیت و فاقد صلاحیت بعد از آن به عنوان مشاور استخدام گردیده و معاشات گزاف به آنها پرداخته شود و پذیرفتن مشوره آنها هم امری باشد اخلاقی، و نه الزامی.

اکنون اگر در کشور ما نظام قضائی پیشرفته که می توانست مقامات بلنددولت را به محاکمه بکشاند وجود می داشت باید از جلالتمآب رئیس جمهور و مشاورین نزدیک شان که خانم فوزیه سادات را به عضویت سنا انتصاب نموده اند بپرسید که باید به ملت خود جواب گویند که این خانم با داشتن کدام خبره و تجربه عالی به این پست انتصاب شده اند.

اگر خبره و تجربه شان اشتراک در اختطاف و قتل ها باشد بجاست که جامعه جهانی نظام موجوده افغانستان را از جمله فاسد ترین نظام ها در جهان توصیف نماید.

با آنکه بر مردم ما است اگر بخواهند نظامی آگاه با احساس مسؤولیت و روحیه خدمتگذاری به ملت که بتواند از همدردی جامعه بین المللی در اعمار این کشور استفاده اعظمی نماید بر مقدرات کشور خود مسلط گردانند در انتخاب شان شخصیت های نخبه را به مجالس تقنینی و پارلمان بفرستند. ولی اگر عوامفریبی بتواند آنها را گول داده و افراد مافیائی از طرف مردم به این مجالس راه پیدا کند دور از احتمال نیست، اما اگر جلالتمآب رئیس جمهور بدست مبارک شان که اعتماد ملتی را با خود دارند و مصارف ارگ ریاست جمهوری و معاشات گزافه مستشاران و مشاوران ارشد و عادی شان در تاریخ

این کشور و شاید کشورهای منطقه نظیر نداشته باشد فردی مافیائی و ملوث در ماجراهای کشور سوز را انتصاب بفرمایند به ملت مظلوم خود باید حق دهند که بر همه اجراآت و تعیینات شان را به نظر شک و تردید بنگرند، من در دوره گذشته سنا هم به رمز تعیین بعضی از اعضای انتصابی این مجلس پی نمی بردم، اما تعقیب حوصله مندانه این امر این رمز را بمن و به همه مردم افغانستان روشن گردانید.

اکنون نباید بر لوی څارنوالی فشار وارد آید که از این جرم بزرگ اغماض کند و یا قضیه را رنگ و رونق دیگری دهد تا انتصاب رئیس جمهور سالم بدر آید و فضیحت مستشارانی که ارباب جنایت را به مجلس سنا راه داده اند رسوا نگردد.

بر مجلس سنا است که از این عضو متهم خود سلب مصؤنیت بنماید و اجازه دهد قوانین کشور بی امان او را مورد بازپرس قرار دهد و محکمه جرأتمندانه بی آنکه "اذا سرق فیهم الشریف ترکوه و اذا سرق فیهم الضعیف اقاموا علیه الحد". با توجه به حالت مجرم که از امکانات و شهرت و اعتبار عضویت مجلس سنا دست به شنیع ترین جرم زده است در سزای او تغلیظ بنمایند.

دولت با همه توانمندی و امکانات با بدست آوردن این سر نخ در پی تعقیب و رده یابی این جرم گردد. این جنایتی است که نه تنها اعتبار، حیات و بقای دولت ونظام راتهدید میکند که قادر است موجودیت افغانستان را زیر سوال برد. و باید دست بزرگترین جنایتکاران بین المللی ودشمنان موجودیت افغانستان آزاد و مستقل در آن رده یابی گردد.

همین مجرمین اند که موجودیت و حضور خدمتگاران حقیقی وطن و سرمایه گذاران ملی و بین المللی را تهدید و بقای نظام و زندگی و تنفس را در افغانستان بر مردم ناممکن می گرداند و این خطرناک تر از عمل مخالفین مسلح نظام است. این موریانه ایست که می تواند بر فولاد رخنه نماید.

بیماری حرص ملیاردر شدن که خاصتاً با آمدن نیروهای خارجی در افغانستان شایع گردیده است، راه های روا و ناروا را نمی شناسد آنهائی که توانسته اند با استفاده از معاشات و امتیازات خارجی اطفاً گردند و یا از راه های مافیائی قراردادهای تهیه مواد سوخت و لوژستیکی را بدست گرفته اند و یا در قراردادهای ساختمان بناها و جاده ها از شهر ناپرسان به مراد رسیده اند و یا از برکت قوماندانی و یا رابطه با عدهٔ از رهبران، سرزمین به پهناور افغانستان جولانگاه تصرفات مافیائی شان شده و ... تا حدی به مراد رسیده اند اما سخنیف ترین مردم آنهائی اند که برای نیل به ملیاردر شدن به بقا، عزت و کرامت کشور خود و هموطنان خود بازی نموده و به جرم نابخشودنی اغوا برای تاوان دست می زنند که باید بحیث مفسد فی الارض و محارب با الله حکم خداوند در مورد شان نافذ شود که می فرماید:

((ان یقتلوا او یصلبوا او تقطع ایدیهم وارجلهم من خلاف او ینفوا من الارض))

این مجرمین در حالیکه مرتکب قطع اعضا، قتل و کشتار بی رحمانه مردم می شوند، بی ثباتی و بی امنیتی را در نفوس همه مردم القا می کنند که هیچ فرد نمی تواند از آن مامون ماند.

مردم بی دفاع افغانستان از همه سازمانهای ملی و بین المللی انتظار دارند که بر همچو مجرمین رحم نه نموده و بر عامه ملت ما رحم آورند که جوانان شان با ارعاب و تهدید همچو افراد جنایتکار بالآخره مجبور به ترک وطن و کاشانه خود گردیده گاهی طعمه نهنگان سواحل استرالیا و اندونیزیا می گردند و زمانی هم در کشورهای همسایه به اتهام ناوارد عمری را در زندان سپری و یا به پای دار زندگانی شان پایان می یابد.

خانه های افغانها بعد از این ...

وزیر دفاع افغانستان و قومندان عمومی قوای ناتو و امریکایی در افغانستان به امضا رسید، مسوولیت عملیات شبانه به افغان ها سپرده می شود.

رییس جمهور کرزی دیروز در اجلاس کابینه افغانستان در مورد این توافق چنین گفت:

"بر اساس این توافق ما به مردم اطمینان می دهیم که نه تنها خارجی ها به خانه های شان داخل نمی شوند بلکه حکومت افغانستان هم کسی را جور نمی دهد و از حقوق بشری کسی تخطی نخواهد شد. "

آقای کرزی همچنان در مورد عملیات شبانه در کشور گفت، افغانها باید در خانه های شان احساس امن کنند.

آقای کرزی در اجلاس دیروز کابینه گفت، بر اساس توافقنامه تازه امضا شده، حاکمیت ملی افغانستان تحکیم یافته است و مسوولیت ها به حکومت افغانستان محول گردیده است.

در اجلاس دیروز کابینه که محمد قسیم فهیم معاون اول رییس جمهور هم شرکت داشت، از افغان ها خواست تروریستان را به خانه های شان نگذارند.

گفته می شود با امضای توافقنامه در مورد عملیات شبانه در افغانستان، راه برای امضای پیمان همکاری های درازمدت میان افغانستان و امریکا هموار شده است. این پیمان چگونه گی روابط میان امریکا و افغانستان را بعد از سال ۲۰۱۴ تعین می کند.

تعداد از مقامات امریکایی می گویند، نیروهای شان را تا ختم سال ۲۰۱۴ از افغاسنتان خارج می کنند، ولی فقط حدود ۱۵ هزار نظامی. امریکایی در افغانستان بعد از سال ۲۰۱۴ باقی خواهند ماند که به فعالیت های خود در بخش های هوایی، لوژیستکی و استخباراتی، ادامه خواهند داد.

دیني عالم او د مقدس جهاد ...

څخه و، نوموړی ستر دیني عالم، داعي او قومي مشر و چې د حزب اسلامي افغانستان تر رهبري لاندې يې د کونړ په ولایت کې دکمونیزم دپوچې عقیدې پر وړاندې د وسلوالې مبارزې مشري کوله، او د ځوانی شیبې یې د کمونیزم او الحاد سره په مخامخ مبارزه کې تېرې کړې وې، مولوی صیب د افغان مقدس جهاد اومبارزې سپیڅلي او سرخیل مجاهد و چې د کنړ او لوی ننګرهار، هره سیمه یی دجهاد اومبارزې شاهده ده. مولوي محمد هاشم د ژوند په وروستیو شیبو کې هم د سولې او ثبات د راوستو او د خپل ولس د سو کاله ژوند لپاره هلې ځلې کولې، چې دهېواد دښمنانو یې دا هلې ځلې ونشوې زغملې او بالاخره یې په شهادت ورساو.

د حزب اسلامي افغانستان رئیس او رهبري هیأت د خپل همسنګره ملګري او دیني عالم په شهادت د زړه له کومی دردیدلی، او د دا ډول شخصیتونو ترور د افغانستان د دښمنانو کار بولي، د حزب اسلامي رهبري هیأت د شهیدانو روح ته د دعا لاسونه لپه کوي او له پروردګار عالم نه ورته د فردوس جنت غوښتونکي دي، د غمجنې کورنی او د کونړ مجاهد او قهرمان ولس سره په دغه دردناکه او غمجنه پېښه کې خپل ځان شریک بولي.

(روح دي ښاد او یاد دې تل وي)

قطر د افغان سولې د بهیر ...

بهرنیو چارو وزیر زلمي رسول د خبرو اصلي موضوعات ول.

موسي زي دا څرګندوني له قطر څخه د زلمي رسول له راستنېدو وروسته وکړې.

د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت تېره اوونی ویلي و چې قطري چارواکي به ژر کابل ته راشي چې په خپله خاوره کې د طالبانو لپاره د دفتر د پرانستلو په باب له افغان چارواکو سره خبرې وکړي.

طالبانو د جنوری په میاشت کې ویلي و چې په دوحې کې به دفتر پرانیزي خو د مارچ په دیارلسمه یې وویل چې د امریکا دریځ ناڅرګند او غیرشفاف دی نو له امریکایی استازو سره خبرې ځنډوي.

طالبان د خبرو د دوام او د اعتماد د رامنځته کېدا لپاره له ګوانتانامو څخه د خپلو پنځو بندیانو د خلاصون او په قطر کې د دفتر د پرانستلو غوښتونکي دي.

خو امریکا وايي چې تضمین غواړي چې دا پنځه تنه به د خوشي کېدو په صورت کې د جنګ جبهې ته نه ځي.

طالبانو دغه راز ویلي چې یوازې له امریکایانو سره خبرې کوي نه د افغانستان له حکومت سره.

افغانستان او هند د اوسپنې ...

نوموړي زیاته کړه، چې د دې موافقه لیک له مخې به اوسپنې د ویستلو او د پولادو د تولید په برخه کې دواړه هېوادونه همکاري کوي:

"دا یو جامع موافقه لیک دی، چې د اوسپنې د ایستلو او په خاصه توګه د پولاد و د تولید ټولې برخې په کې شاملې دي.

دا موافقه لیک د پولاد و د تولید، د اوسپنې د ویستلو، د افغان کدرونو د روزنې او په افغانستان د پولاد و د تولید لپاره د هندوستان د دولتي او خصوصي کمپنیو د هڅونې لپارحقوقي چوکاټ برابروي. "

دغه موافقه لیک د دوشنبې په ورځ په کابل کې د افغانستان د کانونو د وزیر او د هند د پولادو د وزیر ترمنځ لاسلیک شوه.

د یوې پوښتنې په ځواب کې ښاغلي شهراني وویل چې د هندي کمپنیو له کنسرشیوم سره د حاجي کک د اوسپنې د کان د ویستلو پر قرارداد نږدې شویدي.

نوموړي وویل، چې اوس مهال د قرارداد په جزیاتو خبرې رواني دي او ټاکل شوې چې په راتلونکي جون میاشت کې د هندي کمپنیو له کنسرشیوم سره لاسلیک شي.

د هند د پولاد و وزیر بیني پرساد ورما چې کابل ته په دوه ورځني سفرراغلی دی وویل چې د اوسپنې او پولادو په برخه کې یادموافقه لیک به هندي کمپنی په افغانستان کې لا ډېرې پانګونې ته وهڅوي:

"د تفاهم لیک دغه یادښت به د افغانستان د اوسپنې او پولاد و په سکتور کې ظرفیت جوړونې ته لاره هواره کړي، د دواړو هېوادونو ترمنځ به اقتصادي همکاري لا ډېره کړي او د هند د خصوصي او عامه سکتور کمپنی به وهڅوي چې د کانونو له پلوه د شتمن افغانستان د اوسپنې او پولاد و په برخه کې پانګونه وکړي. "

نوموړي زیاته کړه، چې هېواد يې په نړی کې له چینه وروسته د پولاد و تر ټولو ستر تولیدونکی هېواد دی.

ښاغلي ورما وویل چې هېواد يې غواړي په افغانستان کې په پولاد و، طبعي ګازو، تیلواو مسو په برخو کې ډېرې پیسې ولګوي.

وروسته له هغې چې د افغانستان او هند ترمنځ د ستراتیژیکو همکاریو سند لاسلیک شوی دی د افغانستان د کانونو وزارت د هند له کانونو، نفت او ګازو او سوداګری او صنایعو له وزارتونو سره هم د همکاریو موافقه لیکونه لاسلیک کړي دي.

د افغانستان د کانونو د وزیر په وینا ټاکل شوې چې په نږدې راتلونکې کې د هند له کمیاوي کود او ډېرو سکرو له وزارتونو سره هم د همکاریو موافقې لاسلیک شي.

که چیرې د اوسپنې د حاجي کک کان د ویستلو قرارداد له هندي کمپنیو سره لاسلیک شي نو له چینه وروسته به هند دویم هیواد وي چې د افغانستان په کانونو کې تر ټولو لوی قرارداد خپلوي.

افغانستان د نړۍ په رسنيو کې

پر افغان ښځو د قيوداتو لګولو مسله بيا پورته شوې

انډيپنډنټ:
انډيپنډنټ ورځپاڼې تر دې عنوان لاندې چې)داخلي سياستونه بايد له افغانستان څخه د ځواکونو د ايستلو پر نيته اغيز ونه کړي(يوه مقاله خپره کړې چې په راغلي:
افغان سياستوال او کتونکې په دې باور دي، چې له افغانستان څخه د فرانسوي سرتيرو د ويستلو په اړه د ولسمشر سرکوزي او د هغه انتخاباتي سيال فرانسوه هولند پريکړه د دې ځای چې له ۲۰۱۴ کال وروسته د افغان حکومت د توانمندی په اړه د ريښتيني قضاوت پر بنسټ وي، تر ډيره په فرانسه کې د راتلونکو انتخاباتو پورې تړوا لري.
انډيپنډنټ ليکي: يقيناً دا حقيقت دی، دغه راز د امريکا ولسمشر باراک اوباما او د بريتانيې صدر اعظم ډيوډ کمرون هم د افغانستان د جګړې په اړه چې نه يې غوښتل ورته په ميراث کې پاتې شي، خپل داخلي ملحوظات لري .
د مقالي ليکونکې وايي، سره له دې چې په امريکا او بريتانيه کې د سترو سياسي ګوندونو مهم غړي به غواړي چې واشنګټن او لندن له ۲۰۱۴ميلادي کاله دمخه له افغانستان څخه خپل ځواکونه وباسي، خو بيا هم ولسمشر اوباما او صدراعظم ډيوډ کمرون تر ۲۰۱۴ميلادي کاله پورې د افغانستان پوځي ماموريت ته متعهد دي.
انډيپنډنټ زياتوي:
په افغانستان کې امريکايي او بريتانوي قومندان د ځواکونو د ايستلو لپاره يوه دقيقه او ښکاره نيټه نه اعلانوي ځکه هغوي په دې باور دي چې دا اعلان به

متحدانو او دښمن ته يو نا سم پيغام وي.
د دواړو هېوادونو قومندانان ټينګار کوي، چې له افغانستان څخه د زياتو سرتيرو د ويستلو چارې چې څومره امکان ولري بايد په وروستي پړاو کې ترسره شي چې د ورځپاڼې په وينا دا د افغان حکومت غوښتنه هم ده.
لاس انجلس ټايمز:
لاس انجلس ټايمز ورځپاڼې بيا د افغانستان د ښځو د وضيعت په اړه يو مطلب ليکلی چې عنوان يې دی د افغان ښځو وضيعت د هيلري کلنټن سياسي ميراث له ګواښ سره مخامخ کړی دی.
ورځپاڼه ليکي: د امريکا د بهرنيو چارو وزيره چې د کار موده يې څو مياشتې پاتې ده په يوه مسله کې چې د هغې زړه ته نزدې ده او سياسي ميراث يې ګڼل کېږي، په شاه تګ ته مجبوره شوی ده.
هيلري کلنټن ان له دې مخکې چې امريکايي سرتيري افغانستان ته ورسيږي د افغانستان د ښځو د حقونو لپاره غږ پورته کړی وو او د بهرنيو چارو د وزيرې په توګه له ټاکل کېدو وروسته يې د افغان ښځو وضيعت ته د نړيوالو پام راواړوه.
لاس انجلس ټايمز زياتوي: ميرمن کلنټن د افغانستان له ښځو سره ژمنه کړې چې امريکا به هغوي يوازې نه پريږدي.
خو د مطلب د ليکونکې په وينا اوس چې امريکايي مقامات له افغانستان څخه د خپلو زياترو سرتيرو د ويستلو پلان لري او افغان حکومت د دې لپاره چې محافظه کاره ډلې ځان ته جذب کړي د ښځو د حقونو په مسله کې خپل دريځ برابروي، پر افغان ښځو د قيوداتو لګولو مسله بيا پورته شوې ده.
د افغانستان د بشري حقونو د کميسون او د ډيموکراسۍ سازمان د تيرې مياشت د راپور له مخې په افغانستان کې د ښځو د مهمو حقونو په برخه کې هغه پرمختګونه چې په تيره يوه لسيزه کې شوي ښايي بيرته له مينځه لاړ شي.
ورځپاڼه په کابل کې د ښځو ،سولې، او امنيت د چارو د څېړنيز مرکز د مشرې وږمه فروغ په حواله وايي : ميرمن کلنټن په تير وخت کې هم له موږ سره مرسته کړې او موږ د خپل راتلونکې په اړه هم د هغې مرستې ته سترګې به لاره يو.

رحمن: ميخواهيم اعتماد مردم را نسبت به پوليس بيشتر سازيم

کابل، رسانه ها:
وزارت داخله ی افغانستان می گويد که تلاش های تازه ی را به هدف جلب اعتماد بيشتر مردم نسبت به نيروهای پوليس آغاز کرده اند.
در حاليکه هنوز هم انتقاداتی از برخورد و رفتار پوليس با مردم در افغانستان وجود دارد، وزارت داخله اين کشور تلاش های وسيع را در مورد تقويت و افزايش ميزان اعتماد مردم بر پوليس آغاز کرده است.
مقام های اين وزارت می گويند آنان اجرای يک سلسله از برنامه های آموزشی را در زمينه مسلکی شدن نيرو های پوليس و آشنايی اين نيرو ها به مسوولیت های اساسی شان مد نظر دارند.
جنرال عبدالرحمن رحمن معين امور امنيتی وزارت داخله افغانستان به روز سه شنبه در مراسم افتتاح دارالانشای پروژه پوليس مردمی در مقر اين وزارت گفت، اجرای اين پروژه در نزديکی مردم با پوليس خيلی کمک می کند.
"به نظر من اين يک برنامه است، پوليس همان پوليس گذشته است، مهم اينست که مردم با پوليس همکار می شود، حالا اگر پوليس تلاش می کند معلومات بدست بياورد در آن صورت مردم خود شان با پوليس همکاری خواهند کرد، ما هر قدر از جنگ دور می شويم، به مردم نزديک تر شده می رويم، همين برنامه جلب اعتماد مردم را نسبت به پوليس بيشتر می سازد و مردم می فهمند که از طريق اين برنامه ها از پوليس به چه شکل در زمينه تامين امنيت استفاده نمايند. "
گفته شده است که در زمينه پيشبرد کار دارالانشای پروژه پوليس مردمی، برنامه انکشافی سازمان ملل متحد يا يو ان دی پی و پوليس اتحاديه اروپا يا «يو پول» با وزارت داخله همکاری می کنند.
يک سروی انجام شده از سوی برنامه ی انکشافی سازمان ملل متحد در سال ۲۰۱۱ ميلادی در رابطه به رفتار پوليس افغان نشان می دهد که ۷۵ درصد مردم در افغانستان از برخورد پوليس رضايت دارند.
با آنکه بسياری از مردم در کابل و ساير شهر های افغانستان از رفتار پوليس شکايتی ندارند، اما باشنده گان مناطق دور افتاده اين کشور می گويند، نياز است تا تلاش های زياد در راستای بهبود برخورد پوليس صورت گيرد.
تعدادی مردم در ارتباط به چگونگی رفتار پوليس با مردم چنين می گويند:
"ما از پوليس رضايت داريم، به نظر من پوليس مسلکی است و در تامين امنيت مردم خوب کار می کند."
من راننده هستم، در برخی موارد نيرو های پوليس برخورد نادرست می کنند و زمانيکه از پوسته تلاشی عبور می کنيم با ما از خشونت کار می گيرند، حتی دشنام هم می دهند.»
"پوليس کارکرد منظم ندارد، در برخی موارد دست فروشان را زياد اذيت می کنند. کسانيکه پول می دهند آنها را چيزی نمی گويد ولی کسانيکه پول ندارند آنها را اذيت می کنند. "
"ما از پوليس راضی هستيم، شب می رويم و صبح مياييم کدام مشکلی احساس نمی کنيم. "



هر چند مقامات امنيتی افغان ادعا می کنند که ظرفيت های پوليس در مقايسه به چند سال گذشته ارتقاء يافته و تغييرات زياد در توانايی آنان بوجود آمده است، اما بی سوادی و غير مسلکی بودن بسياری از نيرو های پوليس از مسايل است که از آن همواره انتقاد می شود.
آگاهان امور نظامی به اين باور اند که سطح پايين دانش نيرو های پوليس سبب می شود که آنان با مردم به طور غير مسلکی و نادرست برخورد کنند.
اين آگاهان تاکيد می کنند که نيروهای افغان هنوز هم نياز به تعليم و تربيه بيشتر دارند.

امريکا د جګړه ځپلو سيمو اوسېدونکو ته د سکالرشيپونو په ورکړه کې امتياز ورکوي

تاند:
په کابل کې د امريکا سفارت وايي چې د امريکا متحده ايالتونه د فول برايټ سکالرشيپونو پراساس ۷۵ افغانان د ماسټرۍ او درې تنه د دوکتورا لپاره امريکا ته لېږي.
د امريکا د سفارت يوې سرچينې د دوشنبې په ورځ تاند ته وويل چې دوی هڅه کوي چې د جنګ ځپلو سيمو زده کوونکو ته زيات امتياز ورکړي خو د فول برايټ د سکالرشيپونو يو اساسي شرط دادی چې دزده کوونکي يا محصل بايد انګليسي ژبه زده وي.
د امريکا سفارت وايي چې د ماسټرۍ د دورې لپاره يې د افغانانو ونډه په سلو کې ۲۵ زياته کړې ده. دغه راز د لومړي ځل لپاره امريکا ته درې افغانان د دوکتورا لپاره لېږل کېږي.
د امريکا سفارت وايي چې د دې بورس يا سکالرشيپ مينه وال په کابل کې د امريکا د سفارت د ويبپاڼې له لارې)kabul.usembassy.gov(غوښتليکونه وراستولی شي.
د سفارت د سرچينو په وينا يوازې د هغو کسانو پر غوښتليکونو غور کېږي چې ليسانس يې ترلاسه کړی وي او په انګليسي ژبه پوهېږي. سفارت وايي د جګړه ځپلو سيمو اوسېدونکو او دغه راز هغو کسانو ته امتياز ورکوي چې د کار عملي تجربه ولري.
د غوښتليک استولو وروستی نېټه د راتلونکې مې مياشتې لومړۍ اعلان شوې ده.
امريکا هر کال له څو محدودو هيوادونو پرته د نړۍ د اکثرو هيوادونو يوشمېر محصلانو ته د فول برايټ تعليمي سکالرشيپونه ورکوي.
د دې سکالرشيپ پراساس له ۱۹۵۲ څخه تر ۱۹۷۹ پورې، چې په افغانستان کې کمونستي کودتا کېده، هر کال يوشمېر افغان محصلان امريکا ته د لوړو زده کړو لپاره تلل خو د شوروي ځواکونو له يرغله وروسته دا لړۍ د ډېرو کلونو لپاره پرچاو شوې وه.
د فول برايټ سکالرشيپ په نړۍ کې خورا زيات اعتبار لري ځکه چې تر ۲۰۰۹ پورې د هغو کسانو له منځه، چې له دې لارې يې زده کړې کړې، ۳۹ تنو د نوبل جايزې ګټلې دي.

دغه رنګ موټاسي غوره امت ګرځولي ياست چې پر خلکو ګواهان اوسئ
اونيزه شهادت
د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان
خبرونکې اداره د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي خانګه
د امتياز خاوند حزب اسلامي افغانستان
مسوول مدير عبدالله "کامه وال"
مرستيال مدير عبدالخليل (محمد خليل)
د اړيکو شمېرې
دفتر ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسوول مدير ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
مرستيال مدير ۰۷۷۲۲۷۵۷۸۳
• د شهادت اونيزه د هر ليکوال او د نظر خاوند د ليکنو هرکلی کوي
• د شهادت اونيزه حق لري چې د ليکوال ليکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د ليکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي
• رالېږل شوې مطالب نه مستردېږي - يوازې سرليکنه د شهادت د اونيزې رسمي نظر دی
ديزاين خواجه وحيدالله
آدرس: د حزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر سيلو ته مخامخ خوشحال خان مينه . کابل - افغانستان
Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com